# خط مې راغلے د جانان دے

مشتاق مجروح یوسفزے

چا له د خط جواب ورکول کۀ د یو بنده اخلاقي فرض جوړېږي نو دغسې هغه خط سمبال ساتل هم یو ډېر ښۀ او د ستائنې وړ کار دے او بیا هغه بنده خو د ډېرې ستائنې حقدار دے چې دغه خطونه په کتابي شکل کښې چاپ کوي او راروان نسل ته ئې وړاندې کوي ځکه چې دا د ماضي یوه برخه وي او یو قسم له تاریخ وي نو محفوظول ئې فائده مند وي.

د الله پاک شکر دے پښتو ادب د خطونو د مجموعو نه خالي نۀ دے. په پښتو کښې ځنې ځنې لیکونکو په خپل خپل وخت دغسې خطونه چاپ کړي دي او خلقو ورته په درنه سترګه کتلي دي. اوس اوس معروف او نومیالي شاعر محمد اسلام ارماني هم د خطونو او بلنو یوه مجموعه د "خط مې راغلے د جانان دے" په نوم ګرانو پښتنو ته ډالۍ کړې ده چې ډېر ښائسته ټائټل لري او په سپین کاغذ چاپ شوے دے.




د کتاب په اوله برخه کښې خطونه دي چې تر صفحه **312** پورې خوارۀ دي، ورپسې د کتاب په دوېمه برخه کښې بلنې دي چې تر **162** مخونو پورې غزېدلې دي. یعني خطونو له بېلې د صفحو نمبرې ورکړې شوې دي او بلنو له بیلې، ښۀ به ښه وي چې د صفحې نمبر پرله پسې چلېدلے وې.

د خطونو په برخه کښې د لویو لویو شاعرانو ادیبانو هغه خطونه شامل دي چې هغوي وخت په وخت ارماني صاحب ته لیکلي دي. په دې حساب د ارماني صاحب دا کوشش د نورو نه لږ منفرد په دې خبره دے چې تر اوسه په پښتو کښې خطونه خو چاپ شوي وو خو بلنې نۀ وې

چاپ شوي او ښاغلي ارماني صاحب دا کار هم ترسره کړو چې خپل يو تاريخي ارزښت او اهميت لري او د هغهٔ دې کتاب ته ئي يو انفراديت وربخښلے دے.

په دې کتاب کښې اکثريت د هغو خطونو دے چې ادبي نهٔ دي خو د شاعرانو، اديبانو او په پښتو ادب د مئينانو له خوا هغوي ته ليکلي شوي دي او د هغې باره کښې اسلام ارماني صاحب خپله ليکي چې:

«په دې يادګار خطونو کښې به څهٔ خطونه د ذاتي نوعيت هم وي خو د دغه خطونو ليکونکي کلک پښتانهٔ او د پښتو ژبې او ادب مئينان دي او د دې نه علاوه ځنې په خپلو درنو نومونو، شخصيتونو او ادبي خدمتونو خپله پېژندګلو په خپله لري.» (ص **9**)

په دې کتاب مرحوم رحيم شاه رحيم يوه ډېره علمي او خوندوره سريزه ليکلي ده. هغوي په خپله دې سريزه کښې په پښتو ژبه کښې د چاپ شوو خطونو د هغو مجموعو ذکر کړے دے کومې چې وخت په وخت چاپ شوي دي. رحيم شاه رحيم د دې کتاب په حقله ليکي چې «د دې خطونو د ټولو نه ورومبے خصوصيت دا دے چې دا صرف د يو شاعر يا اديب خطونه نهٔ دي بلکې په دې کښې د پښتو ژبې د ډېرو ګڼو ليکوالو ادبي مکتوبات شامل دي. کوم چې د تېرو څلوېښتو کالو خواؤ شا د ارماني صاحب په نوم خپلو دوستانو، شاعرانو او د پښتو نومورو ليکوالو هغهٔ ته رالېږلي دي.»

لکه څنګه چې ارماني صاحب په خپله هم تسليم کړې ده چې په دې کښې ځنې خطونه ادبي حېثيت نهٔ لري بلکې د ذاتي نوعيت دي او هغهٔ په دې وجه شامل کړي دي چې د شاعرانو، اديبانو او د پښتو د مئينانو له اړخ نه هغهٔ ته راغلي دي. خو زما په خپل خيال د ذاتي نوعيت لرونکو دې خطونو کښې لږ ډېر ايډېټنګ ضروري وهٔ. هر څو کهٔ پکښې د داسې خطونو شمېر کم دے. ځکه چې مراسله نګار د خط ليکلو په وخت د دې نه خبر نهٔ وهٔ چې ارماني صاحب به زما دا خطونه چاپ کوي هم ځکه نو ځنې داسې خبرې هم پکښې راغلي دي چې نهٔ بدې دي او نهٔ غلطې دي خو شائع کول ئې پکار نهٔ وو.

د ارماني صاحب په دې کتاب کښې چې کومه لږه برخه د ادبي خطونو ده هغه په زړهٔ پورې او د ستائنې قابله ده. خو زما په خيال د ارماني صاحب د دې کتاب دويمه برخه ډېره ښه ده ځکه چې په دې کښې د مختلفو شاعرانو، اديبانو د کتابونو د مخ کتنو بلنې، د مختلفو تنظيمونو له خوا د ادبي پروګرامونو او ځنو اهمو مشاعرو بلنې يو تاريخي حېثيت لري او لوستونکي ترې دا پته لګولې شي چې يو کتاب په کوم کال چاپ شوے وهٔ او مخ کتنه ئې کله شوې وه او چا چا پرې مقالې وئيلې وې، يا په کومه خاص موقعه په کوم ځائے کښې کوم ادبي تقريب شوے وهٔ. بل دا برخه په دې وجه هم ښه ده چې تر اوسه چا داسې بلنو له د کتاب شکل نهٔ وهٔ ورکړے، دا اوليت د ښاغلي ارماني صاحب په برخه شو.

خدائے دې ارماني صاحب له د نورو کتابونو چاپ کولو توان ورکړي او پښتنو له دې د کتابونو لوستلو توفيق ورکړي. آمين